داکتر محمد ایمل

۲۰۱۹/۰۳/۱۹

# جرګې او مرکې

لمړی برخه

**تعریف:**

جرګه د پښتنو يو لرغونی دود دی، چي قومي مشران ، علمای کرام، مخوراو پوهان په کي د بېلابېلو مسائلو په اړه سره راټوليږي او پرېکړې کوي..

خو په اصطلاح کي جرګه د قبيلوي سپين ګيرواو مشرانو او علماوو هغي غونډي او جرګي ته وايي چي د بېلابېلو مسائلو د حل لپاره جوړېږي. جرګي تر ډېره د تاريخ په اوږدو کي د پښتنو قبايلو او يا هم د پښتنو په ټولنو او کليو کي جوړي شوي دي. په قبايلو کي د جرګي پرېکړې بايد عملي شي، مخالفت او سرغړونه يې ډېري ناوړي پايلي لرلی شي.

په جرګو کي واک مطلق د جرګه والو سره وي او فيصلي هم په دواړو غاړو لازمي وی هره غاړه چي سرغړونه وکړي جرګه يې په مقابل کي ودريږي او خپله پريکړه وربانديې عملي کوي .

د جرګي اصطلاحي معنی تر دي هم پراخه ده او د افغانانو هغي تاريخي عنعنوي غونډي ته وايي، چي د اوږدو زمانو په بهير کي يي زموږ د اولس ټولي ټولنيزې قومي او ملي، سياسي، اجتماعي، اقتصادي، کلتوري او حتی مذهبي شخړې، ستونزې، ناندری، تاوتريخوالی او خنډونه له منځه وړي او حل کړي او په دې برخه کي يي غوښې پرېکړې او فيصلي کړي او کوټلي تصميمونه يي نيولي دي.

مرکه تر جرګي وړه حلقه ده، چي د کلي کور واړه موضوعات او شخړي حل کوي او جرګه د لويو او مهمو مسايلو د حل له پاره جوړيږي.

## د جرګي رابلونکي:

د لويي جرګي د جوړېدو اړتيا له بېلابېلو عواملو نه را زېږېدلي، کله بهرنی يرغل او تېری، کله کورنی شخړي او جنګونه، کله د قدرت تشه او کله د قانون جوړولو او د نړيوالو او ملي پېښو په وړاندي د تصميم نيولو له مخي لويه جرګه راغوښتل کېږي.

د لويي جرګي په را غوښتلو کي ملي تصميم او اراده اساسي رول لري خو کله چي د بهرني بريد په ترڅ کي د هېواد اداره او واکمني له منځه ځي او د تصميم مرکز ورانيږي، نو بيا ملي مبارزين له کليو نه را ولاړيږي، د تصميم يو عاجل مرکز جوړوي او بيا د دې مرکز په وسيله جرګه را غواړي او د هغې د تصميمونو په رڼا کي مبارزه پرمخ بيايي. د نړيوالو



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

پېښو پر وړاندې د تصمیم نیوني یا د خلکو د ژوندانه د ښه کولو په غرض د قانون او نظام جوړوني لپاره جوړېدونکې جرګې واکمن حکومت راغواړي او زمینه ورته برابروي.
مطلب څنګه چې د حالاتو غوښتنه وي له هغې سره سم د لویې جرګې بولندویه مرجع جوړېږي او بیا لویه جرګه راغواړي.

## د جرګې ګډون کوونکي:

په جرګه کې ګډون کوونکي افراد معمولاً د قومونو او خېلونو مشران وي، چې ګډون یې له انفرادیت سره سره د جمعیت معنی لري یعني دوی ظاهراً یو فرد وي، خو بالقوه یو قوم، یو خېل او یو ټولګې وي، چې په جرګه کې د ټولو نماینده ګي کوي. ژبه او ژمنه یې د خپلو ورسره تړلو پرګنو ژبه او ژمنه وي او د هغوی په بشپړ ملاتړ ترسره کېږي، دوی د اولسونو ګوډې ماتې په پوره تدبیر جوړولای، کوشېرولای او ټولنیزې ستونزې له منځه وړلې شي.
د جرګو یو بل روحاني توکی دیني علماء دي، چې جرګې د قرانی مبارکو آیتونو په تلاوت پرانیزي او په پرېکړو یې د عاګاني کوي او له لوی خدای (ج) نه یې بری غواړي علماء یعنی مذهبي لاربنوونکي دي، چې په اولسي اصطلاح یې سپین پټکیان بولي.
د جرګو یو بل مهم رکن بیا نرخیان او هغه کسان دي، چې د جرګې او له هغې سره اړوند ټول ولسي تعاملات ورته معلوم وي او د پرېکړو لپاره د پرېکړو قانوني او حقوقي اړخونه روښانوي او په دې برخه کې د تېرو پرېکړو او په ولس کې د معمولو نرخونو شکل او بڼه مجلس ته وړاندې کوي او بیا پرېکړه پرې کېږي.
کله چې جرګو ته دولتي ملاتړ ترلاسه شو، د جرګو په ترکیب کې  پر قومي مشرانو سربېره، د دولت لوړ رتبه مامورین او د نورو دولتي ارګانونو په څه پوه کسان او هم هغه انفرادي کسان، چې علمي او ټولنیز مقامونه یې در لودل د دولت له خوا په لویو جرګو کې په انتصابي توګه را تلل، نو له دې کبله په ځینې هغو جرګو کې ، چې د دولت تر سرپرستی لاندې را غوښتې شوې وې د لویو جرګو د غړو شمېره ډېره لوړه وه.

## د جرګې بڼه او ټولنځای:

(سبها) چې د آریایانو کوچنی جرګه وه، په هرکلي  کې یې یوه خونه ورته ځانګړې کړې وه، چې د اړتیا پر وخت به دې خونې ته را غونډېدل او ټولو خلکو به یې له خاص امتیازه ګډون پکې کاوه او خپلې شخړې به یې پکې فیصله کولې، له دې خونو نه د ځینې لوبو له پاره هم کار اخیستل کېده، ښځو او نارینه و به ګډه غونډه پکې کوله، چې د دې جرګو ژوندی  بڼه اوس هم زموږ په قبایلو کې شته او دوی خپلې کلیوالي شخړې پکې فیصله کوي.
بیا وروسته د جرګې غونډې په جوماتونو او حجرو کې هم کېدې.
زیاتې جرګې ، چې ګڼ کسان ورته رابلل شوي وي په ازاده فضا کې جوړېدې، چې د جرګې ګډون کوونکو به ښېله حلقه جوړوله او په لږ څه فاصله کې به اورېدونکي هم ورته ناست وو، چې د جرګې خبرې او پرېکړې به یې اورېدلې.
د جرګې غړي د سپین ږیرې په نامه یادیږي او مشران هم ورته وایي. جرګه کوم خاص مشر نه لري، بلکې غړي یې په مساوي شرایطو سره کښیني، په جرګه ځای کې، چې د جرګې غړي را ټولیږي نو غونډه په دایروي بڼه جوړوي، چې د پورته او ښکته امتیاز پکې رانشي، کله داسې هم کېږي، چې جرګه پټه وي، په دې صورت کې جرګه سیلانیان او اوریدونکي نه لري او نه څوک ور نږدې کېدای شي. د جرګې د جوړېدو لپاره هره قبیله جلا ځای لري او دا ځای سپیڅلی وي، چې په ځینې ځایونو کې بیرغ هم پرې رپول کېږي.
د جرګې ځای سر خلاص وي او په عمومي ډول دا ځای پر ډاګ جوړ شوی وي، چې د جرګې د ننداري له پاره د قبیلې ټول خلک د هغه پر شاوخوا را ټولیږي.

## د جرګې امنیت او د متخلفینو مجازات:

له هغه وخته راهیسې، چې دولتونو جرګې جوړه ولوته مخه کړې، نو د امنیت چارې یې د دولتونو پرغاړه دي، د جهاد په وختونو کې د جرګو امنیت د مجاهدینو له خوا نیول کېده، خوتر دې وړاندې په تېرو زرګونو کلونو کې جرګې د خپل جزء په توګه یو امنیتي پوځ هم درلود، چې دا تشکل په پکتیا کې تر اوسه هم د اربکیانو په نامه پاتې دی.
اربکیان هغه قومي سپایان دي، چې د جرګې په وخت کې د جرګې امنیت ساتي او د پرېکړو څارنه یې کوي. اربکیان په هر قوم کې یو میرلرې او هغه له قوم څخه تکړه ځوانان له ځان سره منظموي او کله، چې اضطراري حالت پېښېږي او یا جرګه جوړېږي میرخپل اربکیان را غوړي، وسله وال کوي یې او خپلې، خپلې دندې ورته ټاکي، دوی په قام کې ځانګړی مصونیت لري او څوک نه شي کولای، چې هغه ته زیان ورسوي. کوم وخت، چې اربکیان په کار ګومارل کېږي، د دوی اجراآتو ته ټول قوم غاړه ږدي او منې یې.
اربکي د یوه لرغوني قبیلوي عرف له بقایا وو څخه دي. په آریایي قبیلو کې به د غسې قبیلوي سپایي د جګړې په وخت کې په قبیلوي جګړو کې د جنګي ټولګیو مشر و او په عادي حال کې به یې د قوم د امنیت ساتل پر غاړه وو.
همدا اربکیان د جرګې د پرېکړو  تر اعلانولو وروسته د هغو د تطبیق لپاره ګمارل کېږي او حتی هغه سزاګانې، چې جرګې ټاکلي د هغه مرتکبینو ته ورکوي، که څوک د جرګې له پرېکړو څخه غاړه وغړوي دوی کولای شي، چې پر کور یې اور پورې کړي او ان چې د مرګ سزا ورکړي.
د پټو جرګو اسرار ساتل هم  ډېر مهم دي که څوک د جرګې په دوران کې په پټه غوږ ورته کېنېږدي او یا د جرګې کوم غړی هغه پرېکړه رسوا کړي، نو د جرګې په امر سخته سزا ورکوله کېږي، چې د کور ترسیځلو او وژلو پورې رسیدای شي.

## د جرګې د پرېکړو عملي کېدل:

د جرګې پرېکړې بې له دې، چې په کتاب کې ولیکلې شي یا د اسنادو ثبت دفتر ولري په همغه شفاهي او ګړني ډول د کاڼي د کرښې بڼه لري او عملي کول یې حتمي او لازمي دي. له همدې کبله د هېواد په ډېرو برخو کې له عمرونو را هیسې خلکو خپلې شخړې د ولسوالۍ پرځای د ولس اصلاحي جرګو ته رسولې او بې له رشوت او بې نیاوی نه یې داسې پرېکړې تر لاسه کولې، چې دواړو اړخونو ته به د منلو وړ وې.
د اصلاحي جرګو پرېکړې تر دې حده معتبرې وې، چې زموږ په هېواد کې به د شرعي محکمو قاضیانو، چې کومه شخړه فیصله نه کړای شوه، نو مدعیانو ته به یې ویل، چې اصلاحي جرګې ته سره کښېني او خپله شخړه فیصله کړي او دا پرېکړه به دومره معتبره وه، چې دوی به د خپلو رسمي پرېکړو په کتاب کې درجوله او په دې توګه به یې د شخړې دوسیه تړله او دا ښیي، چې په ولسي تعاملاتو ولاړې پرېکړې ډېرې عادلانه او د خلکو لپاره د منلو وړ وې. قاضیانو په داسې ډول جانبین راضي کولای نه شول، د مسایلو په تحلیل کې د جرګې د بڼه والي یو بل مهم  دلیل دا هم دی، چې جرګه د ډېرو غړو د افکارو له یوځای کېدو څخه جوړیږي او عمومي قضاوت پراخ او هر اړخیز نظر لري او د شخړو او لانجو په هوارولو او فیصله کولو کې نه تېر وځي.
په نړیواله سطحه هم عنعنه دومره ارزښتمنه ده، چې نړیوال حقوق پوهان عقیده څرګندوي، چې د هر ولس او ملت د قوانینو په تدوین کې باید د دوی کلتور، دودونه او عنعنې په نظر کې ونیول شي.
جرګه د افغانیت او ملي عنعنې یوه بنسټیزه برخه ده، چې خان خوشحال خان خټک یې اهمیت داسې بیانوي:
بې جرګې نه به هیڅ کار په لاس وانخلې چې خبر وي د جرګې په برکت استاد حبیب الله رفیع له نظره : د جرګې تاریخي څېرنه د احمدشاهي دورې لویه جرګه.

- د شېر سرخ د مزار جرګه:

کله چي د ۱۷۴۷ کال د جون په ۱۹ نېټه نادر افشار د ده باوري منصبدارانو وواژه يو ځل بيا د دې زمينه برابره شوه، چي د افغانستان خپلواکي تر لاسه او د افغانستان د خپلواک دولت له پاره يو انتخابي مشر را منځ ته شي.

د دې مهمي سياسي مسالي د حل لپاره د قومونو مشرانو بيا هم د لويي جرګي لمني ته لاس وغځاوه او د کندهار د شېرسرخ په مزار کي د يوې لويي جرګي غونډې پيل شوې، په جرګه کي د زياتو قومونو مجربو او باوري مشرانو برخه در لوده، د دې جرګي مهم غړي دا وو.

نور محمد خان غلجی، محبت خان پوپلزی، موسی خان اسحق زی، نصر الله نورزی، حاجي جمال خان بارکزی او....

په دې مزار کي د لويي جرګي غونډي اته ورځي وشوې، خو نتيجه يې ځکه ور نه کړه، چي يوه مشر هم بل مشر ته خپل واک نه شو ور کولی او پرخپل ځان يې د هغه واکمني نه شواى منلی، که څه هم په لومړي نظر د دې کار له پاره نور محمدخان مير افغان ډېر وړ بربښېده، ځکه هم د پاخه عمر او هم د پخي تجربې څښتن و او په ټولو غلجي ټبرونو کي يې محبوبيت او نفوذ در لود، خو څرنګه چي توند مزاج يې درلود ونه ټاکل شو، حاجي جمال خان هم زيات قومي ځواک در لود او مشران وېرېدل، چي دی د واکمنی په وخت کي استبداد ته لاس ونه غځوي، نو ځکه ټولو هڅه در لوده داسي څوک را منځ ته کړي، چي د دوی له ازاد مزاج، د جرګي له اصولو او د افغانانو له ولسي رواياتو او عدالت سره سم ګام واخلي او په راتلونکي کي استبداد ته لاس ونه غځوي او هم د ډېرې پياوړې قبيلې مشر نه وي، تر نهمي غونډې پورې د مشر له پاره ټول شرايط ټاکل شوي وو، د شېر سرخ د مزار ملنګ صابرشاه په دې جرګه کي يو د کم عمر ځوان، چي غلی به ناست، غښتلي متي او زياته هوښياري يې درلوده په دې شرايطو برابر وموند، له ځايه پاڅېد له نژدې کروندې نه يې د غنمو وږي (په بل روايت د وربشو وږي) را وشکول، رايي وړل ، دې ځوان ته يې تاج ترې جوړ کړ، په دستار يې ور وټومبل او غږ يې وکړ:« زه د دې نوي مسووليت له پاره دا ځوان ټاکم!» د ټولو مشرانو دا ټاکنه خوښه شوه، هو! دا ټاکل شوی ځوان احمد خان و، چي بيا وروسته د احمد شاه بابا په نامه ياد شو او په ډېر لږ وخت کي يې د خپل عقل، فراست او مېړاني په مټو لويه افغاني ستروا‌کي( امپراتوري) جوړه کړه او د افغانستان ټولي خاورې يې د نورو له واک نه آزادي کړې او تر دوه نيم سوه کلنی دربدرۍ وروسته د افغانستان بشپړه آزادي تر لاسه شوه.

دا جرګه هم د کميت له نظره ډېره لويه نه وه او محدودو مشرانو برخه پکي درلوده، خو د کيفيت له پلوه ډېره لويه جرګه وه، ځکه د افغانستان د لوېديځ د مهمو قومونو باوري مشران پکي موجود وو او له دې کبله، چي يو لوی سياسي ګام يې واخيست او د هېواد د مشرتابه په برخه کي يې پوخ او مدبرانه تصميم وکړ، د دې انتخاب نتيجه ډېره په زړه پورې او مطلوبه وه او د پښتنو هغه متل يې رښتيا کړ، چي وايي« کار چي په سلا وي بې بلا وي»

د احمدشاه بابا تر مړيني(۱۷۷۲م) وروسته د ده په اولاد کي د اقتدار پر سر خونړۍ کورنۍ شخړې پيل شوې، مدبر وزير شاه وليخان باميزايي د تيمورشاه له خوا ووژل شو او د قومي دښمنيو په نتيجه کي تېمور شاه په غلا پايتخت کابل ته راولېږداوه، د ده تر مړيني وروسته د ده زوی زمانشاه، دسيسو او کورنيو دښمنيو تر لندې مودې واکمنی وروسته د زندان مېلمه کړ او دواک پر سر په واکمنه کورنۍ کي وژني او قتل وخون دومره زيات شو، چي بالاخره انګرېزانو په ۱۸۳۸م کال کي له دې نفاق نه درنه استفاده وکړه، زموږ پر هېواد يې وسله وال تېری وکړ او زموږ ملي واکمني يو ځل بيا رانسکوره شوه، د دې ټولو بدبختيو لوی علت د جرګي( شورې) شاته اچول او د سلا او مشورې له منځه تلل وو.

## د ولس جرگې:

### - د جهادي مشرانو جرگه:

انگرېزانو، رنجیت سنگ او د افغانستان فراري پاچاشاه شجاع د ۱۸۳۸ کال په جون کې یو درې اړخیز تړون لاسلیک کړ، په دې تړون کې شاه شجاع ته وعده ورکړه شوه، چې دی به د افغانستان پاچاهی ته رسول کېږي او ده هم د قدرت په هوس کې د افغانستان زیاتي سیمې انگرېزانو او سکهانو ته ور وبخښلي او د دوی بشپړه غلامي یې ومنله، د همدې قرارداد په بنا شاه شجاع له انگرېزي لښکرو سره د سند او بولان له لارې پر کندهار راغی، کندهار یې ونیو او هلته د انگرېزانو له خوا د ده تاجپوشي وشوه، بیا یې د کابل پر لور لښکر کشي وکړه. غزنی یې لاندې کړ او امیر دوست محمدخان له کابل نه د بخارا په لور تېښته وکړه، شاه شجاع انگرېزانو کابل ته را ووست او پر تخت کښېنول شو، انگرېزي نماینده مکناټن او نورو انگرېزانو علنا ټول اختیارات تر لاسه کړل او پاچا د کلمې په حقیقي معنی تش په نامه پاچا و.

د افغانانو د ملي جرگو برکت و، چې افغانانو ته یې له پردو یرغلگرو سره د مقابلې داسې ملي شعور ورکړی و، چې هر افغان خپل مسوولیت گاڼه، چې بې له قبلي مفاهمې په خپله خپله سیمه کې را پاڅېږي او د پردي تېري په مقابل کې ملي لښکر تنظیم او له تېري کوونکو سره مقابله پیل کړي.

په همدې اساس کله چې انگرېزان له کندهار نه تر کابل پورې را تلل، په لاره کې ډېر بریدونه پرې وشول او دوی هم خصوصا په غزني کې مجاهدین په ډېر وحشت او قساوت قتل عام کړل، خو دې وحشت او دهشت، نه یوازې دا چې خلک ونه وېرولای شول، بلکې د ملي پاڅېدنو حلقه یې لا پسې پراخه کړه، د افغانستان په گوټ گوټ کې خلک پاڅېدل او د دوی د غلام پاچا پر تاسیساتو بریدونه پیل شول، د ملي پاڅون حلقه د مرکز پر لور راتنگېدله او د بېلوبېلو سیمو د مجاهدینو تر منځ مفاهمې ټینگېدلې، د دې پاڅون او د دې مفاهمو نتیجه دا شوه، چې یو ځل بیا یوه ملي لویه جرگه را منځ ته کړي.

د روژې په یوه مبارکه شپه کې د ۱۸۴۱م کال د نومبر په لومړۍ نېټه د کابل ښار په زړه عاشقان وعارفان کې د مشرانو یوه جرگه راغونډه شوه او د یوه عمومي پاڅون له پاره یې پرېکړه وکړه، جرگې چې د بېلابېلو قومونو مشران پکې وو د پاڅون د رهبرۍ له پاره یوه دوولس کسیزه شورا جوړه کړه، استازي یې وټاکل، چې خلک پاڅون ته وهڅوي، د انگلیسانو مخبران او ارتباطات تر څارنې لاندې ونیسي او نور لازم اقدامات وکړي.

د انقلابي شورۍ د مشرۍ له پاره یې نواب محمد زمان خان د رئیس په حیث او امین الله خان لوگري د«نائب» په حیث وټاکل. د دې شورۍ نور مهم غړي: غازي عبدالله خان اڅکزی، میرمسجدي خان او ځینې نور کسان وو.

دانقلاب د څرخ په څرخولو کې د دې مشرانو هم لوی لاس و: سکندرخان بامیزی، امام ویردي( اوزبک) ملا احمد برنج فروش، اکبر خوابگاهي، اغاحسین قزلباش او نورو په لسهاوو کسان د دې لویې جرگې د تدبیرونو په رڼا کې په دوو میاشتو کې دننه انگرېزانو شرمېدلې ماته وخوړه او مجبور شول، چې د ۱۸۴۲ کال د جنورۍ په ۶ نېټه کابل تخلیه کړي او د افغانستان آزادي ومني.

دا لویه جرگه هم د کمیت له پلوه ډېره لویه نه وه، ځکه د نرۍ د وخت د لوی ښکېلاکي ځواک تر واک لاندې سیمو کې جوړېده او د امنیت ساتلو یې بشپړه هوښیاري غوښته، چې وښووده شوه، خو د کیفیت له خوا ډېره لویه جرگه وه او د ملي پاڅون له پاره یې داسې تدبیرونه ونیول، چې په ډېره ښه توگه یې ملي رهبري وکړای شوه او په ډېر لنډ وخت کې یې د هېواد آزادي تر لاسه کړه، خو افسوس چې د انگرېزانو تفتین د قدرت ته رسېدو تر وخته پورې د دې جرگې ځینې غړي لکه: غازي عبدالله خان اڅکزی او میرمسجدي خان د خاینانو او دخپلو اعمالو په لاسونو شهیدان کړي وو او پاتې یې هم د ټینېدلي امیر دوست محمد خان د حکومت د بیا ټینگېدلو په اثر تس نس شول، خو بیا یې هم د نړۍ په تاریخ کې یو لوی کار تر سره کړی و او هغه هم د لومړي ځل له پاره د انگرېزانو د مغرور ښکېلاک شرمېدلې ماته وه، ځکه تر دې وخته

دوی خپل قدرت نه ماتېدونکی ګاڼه او د نړۍ نورو لویو او ورو هېوادونو هم فکر کاوه، چې انګرېز نه ماتېدونکی قدرت او قوت دی.

## د امیر شېرعلي خان لويې جرګې:

### - لومړۍ لویه جرګه:

امیر شېرعلي خان چې یو روڼ فکره پاچا و، لویو جرګو ته یې یو ځل بیا ارزښت ورکړ، ده په ۱۸۶۵ م کال په کابل کې یوه لویه جرګه جوړه کړه. دې جرګې ته یې د هېواد له بېلابېلو سیمو نه دوه زره کسان را وبلل، څو ده ته د ده د ورونو د اختلاف او د ښمنیو په باب مشوره ورکړي، چې تر دې مشورې وروسته له خپلو ورونو سره جګړې ته متوجه شو، په نتیجه کې یې ماته وخوړه او د کابل تخت یې ورونو ترې ونیو.

### - دوهمه لویه جرګه:

همدا راز ده د خپلې واکمنې په دوهمه دوره کې په ۱۲۹۰ هـ ق (۱۸۷۳م) کال د خپل ۱۳ کلن زوی عبدالله جان د ولیعهدۍ له پاره یولوی جشن جوړ کړ او د شمس النهار د یوه اقتباس په استناد پنځه سوه زره تنه مخور اوسپین ږیري ورته را غونډ شوي وو او اووه شپې او ورځې یې دوام درلود د همدې لویې غونډې په دوران کې امیر شېرعلي خان د افغانستان لومړنۍ کابینه جوړه کړه، سید نورمحمد شاه یې صدراعظم وټاکه د بېلابېلو چارو له پاره یې وزیران موظف کړل، دا دواړې جرګې د کمیت په لحاظ ډېرې لویې وې او خصوصا د دوهمې جرګې د ګډون کوونکو د شمېر په اقتباس کې که غلطي شوي وي هم یقینا ډېره لویه جرګه به وه، خو کیفیت یې د پخوانیو جرګو غونډې نه و، ځکه اهداف یې تر هغې واړه وو، له ورونو سره جګړه د اقتدار جګړه وه او خلکو له داسې موضوع سره ډېره علاقه نه ښوده او هم د ولیعهد ټاکل د پاچا یو بل هوس و، چې د خپل لوی زوی محمد یعقوب خان سر ه د مخالفت له امله یې کړی و، خو بیا یې هم لویه مېوه یې په افغانستان کې د یوه منظم او عسکري حکومت او کابینې را منځ ته کېدل وو.

## بیا هم د ولس جرګې:

### - دمجاهدینو ارتباطي جرګه:

په ۱۸۷۹ ع کال انګرېزانو یو ځل بیا پر افغانستان وسله وال برید وکړ، امیر شېرعلي خان کابل پرېښود او مزار شریف ته د روسانو د مرستې په تمه ولاړ، خو هلته زړه چاودی مړ شو.

انګرېزانو د ده زوی یعقوب خان، چې له زندانه پر تخت کښېنول شوی و له ځانه سره مل کړ. ګندمک شرمېدلی تړون یې ورسره وکړ او د افغانستان حکومت یو ځل بیا د انګرېزانو لاس ته ولوېد.

د افغانستان ولس هم د خپل طبیعي خصلت له مخې د پاڅون لاره ونیوه، په هر ځای کې سره را غونډ شول او د خپلو ملي مشرانو په لارښودنه یې پر انګرېزانو بریدونه پیل کړل. د کابل، کوهدامن او کاپیسا د جهاد مشران: محمد کریم خان، غلام حیدر خان کابلي، میربچه خان کوهدامني، میرغلام قادر خان او پیانی، پرویز شاه خان پغمانی، د تګاو او نجراو جهادي مشران، د جهاد مشران، محمد عثمان خان ساپی او ورور یې محمد شاه خان، په لوګر کې د جهاد مشران غلام حیدر خان څرخي، سمندرخان او محسن خان لوګري، د میدان او وردګو جهادي مشران محمدجان خان وردګ او ملا عبدالغفور خان لنګري، د غزني او زابل جهادي مشران ملا دین محمد اندړ، په هرات کې نایب سالار حفیظ الله خان او سردار محمد ایوب خان، په ننګرهار کې عصمت الله خان جبارخېل او د هېواد په ګوټ ګوټ کې په سلهاو نور کسان، چې د ملا مشک عالم د وینا له مخې د جهاد ټول مشران درې زرو تنو ته رسېدل.

دوی ټولو د هېواد په بېلابېلو برخو کې محلي جرګې جوړې کړې وې، چې د ارتباطي شبکو له لارې یې دې جرګو ته د یوې واحدې جرګې بڼه ورکړې وه او د جهاد په ارتباط یې ګډ تصمیمونه نیول.

د همدي ګډو تصميمونو له مخې مجاهدينو د انګرېزانو او مزدور حکومت ځالي ورانولي، د مرکز په لور را لنډېدل او د کابل د محاصرې حلقه تنګېدله، څو چې د ټولو سيمو مجاهدين له خپلي خپلي خوا پر کابل را چاپېر شول او په انګرېزي چونيو يې اوربل کړ. په دې برياليي جهاد کي نارينه او ښځو ګډه برخه درلوده او د ۱۸۷۹ کال په دسمبر کي يې سوړ ژمی د انګرېزانو له پاره په سره تنور بدل کړ او يوځل بيا يې انګرېزان د شرمېدلي ماتي په لاره روان کړل، چي د (۱۸۸۰) کال په جولای کي يې په ميوند کي د وولس زره لښکر تباه شو.

دې جرګو د انګرېزانو د شړلو پروګرام در لود، خو د افغانستان د ازادی د سنبالولو کوم پروګرام ورسره نه و، نو ځکه کومه سکه، چي محمد جان خان ضرب کړي وه پرې ليکلي يې وو:

می کنم ديوانگی تا برسرم غوغا شود

سکه به زر ميزنم تا صاحبش پيدا شود

او له همدې نيمګړتيا نه انګرېزانو ګټه واخيسته، له سردار عبدالرحمن خان سره يې اړيکي ټينګي کړي او تر پټ ټرون وروسته يې ده ته د (۱۸۸۰) کال په جولای کي د پر تخت کښېناستلو بلنه ورکړه.

ده ظاهرا د جهاد اعلانونه نشر کړل او د مجاهدينو له لارې حکومت ته ورسېد، انګرېزان هم جسما له افغانستان نه ووتل، خو په غير مستقيم ډول عبدالرحمن خان د دوی د تحت الحمايه پاچا په توګه پاتي شو.

د مجاهدينو دې ارتباطي جرګو يوځل بيا د افغانستان آزادي تامين کړه او دا جرګه هم د کميت او کيفيت له اړخه لويه او مهمه وه او دا چې وروستی نتيجه يې دښمنانو وتروړله لوی علت يې دا و، چي د افغانستان خلک له خارجي ښکېلاک سره ژوره دښمني لري، خو له کورني استبداد سره بيا غير ملي او استبدادي حکومتونو روږد کړي دي.

## د سراجي دورې جرګه:

### - د بېطرفی لويه جرګه:

د ۱۹۱۳ م کال په اګست کي نړی وال عمومي جنګ ونښت، په دې جنګ کي انګرېزانو د افغانستان له تحت الحمايه حکومت نه توقع در لوده، چي افغانستان د انګرېز په ملاتړ په جنګ کي برخه واخلي او که نه نو بېطرفه پاتي شي، د افغانستان روشنفکرانو او په آزادئ مين اولس اراده درلوده، چي د انګرېزانو له جنګي مصروفيت نه په استفادي کولو سره له انګرېزانو سره وجنګيږي او له تحت الحمايګی نه ځان خلاص کړي، کابل ته راغلي د جرمنيانو او ترکانو هيات له افغانستان نه غوښتنه کوله، چي د دوی ملاتړ وشي او د انګرېز په وړاندې په جرګه کي برخه واخلي او له دوی سره به په دې برخه کي هر ډول مرسته کيږي خو اميرحبيب الله خان د موضوع د باريکی له امله منځنۍ لار خوښه کړه او د افغانستان بشپړه بې طرفي يې اعلان کړه او انګرېزانو ته يې په جګړه کي د نه شامليدو ډاډ ورکړ. محمود طرزي په سراج الاخبار کي د «حی علی الفلاح» وينوونکي مقاله چاپ کړه، خو د انګرېزانو له خوا په مطبعه کي سانسور او له نشر څخه پاتي شوه.

پاچا په ۱۹۱۵ م کال د خپلي بې طرفی د تاييد له پاره د افغانستان مشهور مشايخ لکه: د اسلام پور پاچا (ميرصاحب جان) د موسهي اخونزاده (ملامحمد جان) د تګاو ملا صاحب، د هډې اخونزاده، د بړو ميا صاحب، د حصارک ميا صاحب، شمس الحق صاحب، د شور بازار حضرات، حافظ جی صاحب، ملا محمد مريد، ملا عبدالغفار اخونزاده او نور کابل ته را وغوښتل. د دغو مشايخو او نورو ولسي وکيلانو په شمول يوه لويه جرګه د امير په وړاندې جوړه شوه او د ملت د اتفاق او د دولت د بېطرفی د سياست ملاتړ يې وکړ.

په دې لويه جرګه کي که څه هم ظاهرا انګرېزان د افغانانو له ګوزار نه خلاص شول، خو افغانستان هم له تباهی او د نړيوال جنګ له ډګر ګرځېدو څخه بچ او د نړيوالي سوځوونکي جګړې له لمبو څخه وژغورل شو.